د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

# د اُستاذ درې حقونه

## (قسط اول)

د 12 جون، 2025ء



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بيان: 5 منټه (2): دُعا يادول: 5 منټه

(3): [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، **ټول وخت: 15 منټه-**

نن به د زده کولو او ښودلو پهٔ **حلقو** کښې **د اُستاذ درې حقونه** (قسط:1) ښودلے شي او **د آبِ زَم زَم د څښلو پهٔ وخت لوستلے کيدونکې دُعا** به يادولے شي- پهٔ اخره کښې به د نيک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کيږي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم!

## د دُرُود شريف فضيلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** فرض حج کوئ! بے شکه د دې اَجر پهٔ 20 غزاګانو کښې د شرکت کولو نه زيات دے او پهٔ ما باندې يو ځل دُرُودِ پاک لوستل د دې برابر دے- [1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ على مُحَمَّد

## د اُستاذ درې حقونه (قسط اول)

## آيت مبارک

الله پاک فرمائيلي دي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اسۡتَجِيۡبُوۡا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوۡلِ اِذَا دَعَاكُمۡ لِمَا يُحۡيِيۡكُمۡ ۚ (پاره:9، سورۃ الانفال:24)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ايمان والؤ! د الله او د هغهٔ د رسول پهٔ بارګاه کښې حاضر شئ چې کله هغوئي تاسو د هغه څيز طرف ته راوبلي کوم چې تاسو ته ژوند درکوي-

[1] ... مسند الفردوس، جلد:2، صفحه:130، حديث:2662۔

نبي کريم، رووف الرحيم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کوم چې مُعَلِّمِ کائنات دے، د ټول مخلوق اُستاذ دے، پۀ دې آيت مبارک کښې د نبي کريمصَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو حق بيان کړے شو چې اے ايمان والؤ--!! خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله تاسو راوبلي، ټول کارونه پرېږدی او فوراً د هغوي پۀ خدمت مبارک کښې حاضر شئ--!! ځکه چې رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ قرآنِ کريم ښودلو، د عِلمِ دِين پۀ ښودلو ستاسو پۀ رُوح کښې ژوند اچوونکے دے۔ (1)

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: عِلم زده کړئ او د عِلم د پاره ادب او احترام زده کړئ، چا چې تاسو ته عِلم وښودلو، د هغۀ پۀ مخکښې عاجزي اِختيار کړئ! (2)

## د اُستاذ درې حقونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** وئيلے کيږي چې اُستاذ بادشاه نۀ وي، خو بادشاهان جوړوي۔ پۀ دې کښې شک نشته چې د اُستاذ پۀ شاګرد باندې بے شميره احسانونه وي۔ ځکه د اُستاذ حقونه هم زيات دي۔ نن به مونږه د اُستاذ د دريو حقونو د زده کولو سعادت حاصلوو۔

**وړومبے حق:** تابعداري کول

**وضاحت:** علمائے کرام فرمائي: دِيني اُستاذ د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نائب دے۔ (3) ځکه پۀ شريعت کښې دننه د هغۀ هره خبره منل ضروري دي - د دې پۀ برکت

---

1...تفسير نعيمی، پارہ:9، سورۂ انفال، زیرِ آیت :24، جلد:9، صفحه:258/257، ملتقطًا۔
2...معجم اوسط، جلد:4، صفحه:342۔ حديث:6184۔
3...فتاوی رضويه، جلد:24، صفحه:413، بتغير قليل۔

به ❀ په عِلم کښې ترقي نصيب کيږي ❀ د عِلم نُور زړه ته کوزيږي ❀ په دُنيا او په اخرت کښې د عِلم برکتونه نصيب کيږي- ځکه که شاګرد هر څومره هم لوئي شي، په هغهٔ باندې لازم دي چې د خپل اُستاذ صاحب ادب کوي، اُستاذ صاحب چې کله هم حکم وکړي، فوراً دې هغه مني، د خپل عقل نهٔ دې کار نهٔ اخلي- نن سبا بعضې شاګردان د اُستاذ نه بد ګمانه کيږي، که درې څلور لفظونه ولولي نو ځان ډير علامه ګڼي، د خوش فهمۍ ښکار کيږي او د اُستاذ صاحب نافرماني شروع کړي، بعضې وخت خراب صحبت خراب اثر لري او ښه تابعداره شاګرد هم نافرمانه کوي- ياد ساتئ چې د اُستاذ نافرماني هم سپيرهٔ والے راولي- ځکه هر وخت د اُستاذ تابعدار اوسئ- آؤ! خُدائے دې نهٔ کړي که چرې اُستاذ د شريعت خلاف حکم کوي نو د ادب په دائره کښې دننه معذرت وکړئ!

دويم حق: ادب او احترام کول

وضاحت: مثلاً ❀ د اُستاذ صاحب نه مخکښې نهٔ تلل ❀ د هغوئي په ځائے باندې نهٔ کيناستل ❀ د هغوئي مخې ته سترګې ښکته ساتل ❀ د هغوئي نه مخکښې خبرې نهٔ شروع کول ❀ د هغوئي لاسونه ښکلول ❀ د هغوئي سره توقې ټقالې نهٔ کول ❀ د هغوئي په مخکښې لِـهجه او اواز ورو ساتل ❀ د هغوئي برابر نهٔ کيناستل ❀ که د اُستاذ صاحب سره د خوراک څښاک کولو سعادت ميلاؤ شي نو د هغوئي نه مخکښې خوراک څښاک نهٔ شروع کول- غرض: د شريعت په کرښه کښې دننه د اُستاذ هر قِسمه عزت کول ضروري دي- د اُستاذ بے ادبي په دُنيا او په اخرت کښې د رسوايۍ سبب دے او د اُستاذ ادب د دواړو جهانو خير دے-

دريم حق: د اُستاذ صاحب طرف ته توجه ساتل

وضاحت: چې اُستاذ صاحب سبق ښائي نو د هغوئي ❀ هره خبره په غور باندې اوريدل ❀ که ممکن وي نو اوئې ليکئ ❀ که په يوه خبره باندې نهٔ پوهيږئ نو په ادب سره يې

اُستاذ ته عرض کړئ، د سبق په وخت د پام اړولو نه کار مهٔ اخلئ مثلاً ❁ خبرې کول ❁ اِشارې کول ❁ موبائل کتل ❁ خوراک څښاک کول ❁ د ګوتو سره لوبې کول وغیره د عِلم د برکتونو نه محرومه کولے شي۔

## دوهرائي

د اُستاذ دا درې حقونه دي، په ذِهن کښې يــې کښينوئ! (1): تابعداري کول (2): ادب او احترام کول (3): د اُستاذ صاحب طرف ته توجه ساتل۔

## د ښودلو او زده کولو په حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د آبِ زَم زَم د څښلو په وخت لوستلے کيدونکې دُعا

اَللّٰهُمَّ اَسْأَلُكَ عِلْمًا نَّافِعًا وَّرِزْقًا وَّاسِعًا وَّ شِفَآءً مِّنْ كُلِّ دَآءٍ

ترجمه: اے الله! زهٔ ستا نه د نفع رسوونکې عِلم او په رزق کښې د فراختيا او د هرې بيمارۍ نه د شِفا سوال کووم۔ [1]

د مدينے سرکار، د زړونو قرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: آبِ زَم زَم چې د کوم کار د پاره وڅښلے شي (فائده منديې دي) ❁ که تاسو د دې د څښلو په وخت شِفا غواړئ نو الله پاک به درته شِفا عطا کړي ❁ که پناه غواړئ نو الله پاک به پناه در عطا کړي ❁ او که تاسو دا (صرف) د مړيدو (تندې ماتولو) په غرض څښئ نو الله پاک به ستاسو تنده ماته کړي۔ [2]

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

### د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نــمونځونه مو د جَمعې سره ادا

1…مستدرک، کتاب المناسک، باب ماء زمزم لما شرب له، جلد:2، صفحه:132، حديث:1782، مدنی پنج سورہ، صفحه:214۔
2…مستدرک، کتاب المناسک، باب ماء زمزم لما شرب له، جلد:2، صفحه:132، حديث:1782، مدنی پنج سورہ، صفحه:214۔

کړي؟ (3): آيا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوْرَةُالْمُلْك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نـمونځ نه پس مو آية الـكرسي، تسبيح فاطمه، سُورَةالِاخلاص لوستلے؟ (6): آيا د كنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلي يا اوريدلي؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آيا 313 كرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آيا د فضول نظر نه په بچ كيدو سره مو نظر ښكته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مكـتبة الـمدينه اِصلاحي كتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو وركړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو كړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو كړې؟ (17): آيا په تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې كړي؟ (18): آيا په مكـتبة الـمدينه بالغان كښې مو لوستلي، يا مو ښودلي؟ (19): آيا د ماسخوتن د جمعې نه پس په دوو ګينټو كښې كور ته رسيدلي يئ؟ (20) : آيا دوه ګينټې مو په ديني كارونو باندې لګولي؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاخول كړي؟ (22): آيا د نورو كورونو ته مو د كتلو نه ځان بچ كړے؟ (23): آيا په كور كښې مو درس وركړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو وركړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو په سُنَّت باندې مو عمل كړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه كولو په شكل كښې مو فوراً توبه كړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک كړے؟ (30): آيا مسلمانانو ته مو سلام كړے؟ (31) : آيا څۀ نا څۀ مو په سُنَّتو باندې عمل كړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخكښې ادا كړي؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةِ الليل مو ادا كړي؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او څاخت نـمونځ مو كړے؟ (35):آيا د مازديګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا كړي؟

(36): آيا پهٔ 12 ديني کارونو کښې مو د يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال کړي نهٔ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلى نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څهٔ وخت د پاره مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نهٔ ده کړې؟ (41): آيا پهٔ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزئ داسې الفاظ خو مو نهٔ دي وئيلي کوم چې زړهٔ نهٔ دي منلي؟ (43): آيا د صفايئ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو پهٔ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څهٔ نا څهٔ جائز کار نه مخکښې بِسْمِ الله وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړهٔ ازارولو او پهٔ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو پهٔ سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

✿ پهٔ ليکلو خبرې کول 12 کرته ✿ پهٔ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ✿ پهٔ سترګو کښې د سترګو اچولو بغير خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو خوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَره مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا پهٔ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعْتِکَاف

مو کړے؟ **(61)**: آیا د مریض یا غم زپلي تپوس یا غم خوري او د چا پهٔ وفات کیدو مو تعزیت [لاس نیوه] کړې؟ **(62)**: آیا پهٔ هفته کښې مو پهٔ یوه ورځ کښې روژه نیولې؟ **(63)**: آیا هفته واره رساله مو لوستلې یا اوریدلې؟ **(64)**: آیا علاقائي دوره مو کړې؟ **(65)**: آیا مخکښې راتلونکي او اوس د نهٔ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د دیني ماحول سره تړون پیدا کړو؟